# د شهید فهیم دشتي بنسټ

## اعلان

---

# په افغانستان کې د بیان او رسنیو ازادي د بشپړ سقوط له ګواښ سره مخ ده

تاریخ: د اسد ۲۳، ۱۴۰۲

څرنګه چې وړاندوینه شوې وه، د کابل له اشغال وروسته طالبانو د دوحې په مذاکراتو کې له خپلو ژمنو سره په کلکه مخالفت وکړ، هیڅ ډول بشري ارزښتونه یې مراعات نه کړل او د واک او حاکمیت په ترلاسه کولو سره یې؛ بشري حقونه، د ښځو طبیعي حقوق او ارزښتونه، د بیان ازادي او معلوماتو ته د لاسرسي برخو کې تر ټولو زیات زیانونه واړول.
طالبانو په تېرو دوو کلونو کې د خپلې واکمنۍ د لومړۍ دورې په څېر؛ ښوونځي، پوهنتونونه او د نجونو او مېرمنو پرمخ یې ټول ښوونیز مرکزونه وتړل؛ ښځې یې د کار له حقه بې برخې؛ او حتی له کوره د وتلو اجازه یې ترې واخیستله.
طالبانو په لومړي ګام کې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون منحل کړ او د عامه رسنیو قانون یې وځنډاوه، چې په پایله کې یې د رسنیو او خبریالانو کار په بشپړ ډول ناڅرګند حالت سره مخ شو.
د بې سرحده خبریالانو د راپور له مخې، په افغانستان کې له ۱۲۰۰۰ خبریالانو او رسنیز کارکونکو څخه دوه پر دریمه برخه یا شاوخوا اته زرو یې خپلې دندې له لاسه ورکړې او ۸۰ سلنه ښځینه خبریالانې له مسلک څخه وتلې دي.
دغه سازمان زیاتوي چې د افغانستان ۴۳ سلنه رسنۍ له کاري صحنې څخه ورکې شوي دي. د طالبانو د واکمنۍ په لومړیو دریو میاشتو کې؛ د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه تر ډسمبر پورې د ۱۰۷۸۰ کارکوونکو په ګډون چې په خبري خونو کې پر دندو بوخت وو، یوازې یې ۴۳۶۰ تنه پاتې دي.
په وروستیو دوو کلونو کې طالبانو د بیان د ازادۍ د معیارونو خلاف په منظم ډول د لسګونو پېښو ترڅنګ داسې کړنې ترسره کړي چې د نړیوالې ټولنې هر ډول تعامل د طالبانو سره د وخت ضایع او بې ګټې ده.
که څه هم ګڼې رسنۍ د امنیتي او اقتصادي ستونزو له امله د نه فعالیت له خطر سره مخ دي، خو په ننګرهار کې طالبانو د همیشه بهار راډیو او ټلویزیون تړلی او د "نن" او "جوانان" راډیوګانو پر دفترونو یې د چاپو په ترسره کولو سره د دوی د فعالیت مخه نیولې ده.

په داسې حال کې چې د نړیوالې ټولنې استازو له دوی سره د مستقیم تعامل په نوم او د طالبانو په وړاندې د سختو سیاستونو د بدلون په نوم سره لیدلي او د سیګار په وینا، د امریکا متحده ایالاتونو له طالبانو سره د څه باندې شلو کلونو لپاره مالي مرستې کړې دي چې تر دې دمه په تېرو دوو کلونو کې ۲،۲۵ میلیارده ډالره مرسته شوې ده.
له څه مودې راهیسې د طالبانو له خوا یو شمېر خبریالان او د بشري حقونو فعالان بندیان شوي او د هغوی د برخلیک په اړه هېڅ خبر نشته. طالبانو په خپلو وروستیو اقداماتو کې په غزني کې د وحدت ابدالي په نوم خبریال او عکاس، فقیر محمد فقیرزی، ولسمشر او جان اغا صالح ووژل. ننګرهار کې د کلید راډیو خبریال حبیب سراب، په پکتیا کې د سلام وطندار خبریال، حسیب حسن په کندوز کې نیول شوي دي. په همدې حال کې درې نور خبریالان نجیب فریاد، د آریانا نیوز خبریال، هاتف ارین او صبغت الله توران سیمه ییز خبریالان په بلخ ولایت کې د اور وژنې د پېښې په اړه د راپور جوړولو پر مهال نیول شوي دي.
د شهید فهیم دشتي بنسټ په هیواد کې د طالبانو له لوري د بشریت ضد جنایتونه او سیاستونو تر سره کول؛ په کلکو ټوکو غندي او له نړیوالې ټولنې هیله کوي چې پر طالبانو او د هغوی پر ملاتړ کوونکو فشار راوړي تر څو په هېواد کې د ډیموکراسۍ د ټینګښت لپاره هڅې وکړي.